# د صدیق خټک دژوند او شاعرۍ تحقیقي جاج

(A Research review of Saddiq's Life & Poetry)

Dr. Asal Marjan ( Muhib Wazir)[1]
E.mail mwazir@bkuc.edu.pk
Phone# 03332198450
Muhammad Khatir Pasun[2]
Phone# 03319893093

**Abstract:**

**Siddique Khattak belongs to the golden age (Zareen Dawar) of classical Pashto literature. He is the nephew of the great poet Khushal Khan Khattak and the son of Faqir Jamil Baig. He is older than Rehman Baba or his peers. Siddique has followed Khushal Khattak's school of thought mostly, but he has also maintained his stylistic affinity with the Hindi school of style (Hindi Sabbaq) .In this article discusses the life and poetry of Siddique Khattak from different angles.**

د پښتو ادب زړه دوره په دربو دورونو سره وېشل شوې ده، دریم دور ته یې زرین دور وئیل کېږي ؛ خو خدائے مه کړه که دغه دوره کښې ستر خوشحال خټک او د هغهٔ د قبیلې شاعران او لیکوالان نهٔ وے بیا به دغه دور ته چا هم زرین دور نهٔ وے وئیلي. د خوشحال خټک سره چې د غرهٔ کوم یوهٔ خټک هم ناسته کړې ده دهٔ شاعر ترې جوړ کړے دے او د غرهٔ پهٔ دغو خټکو کښې زمونږ سره یو شاعر صدیق خټک دے. میا وکیل شاه فقیرخېل چې د صدیق دېوان یې مرتب کړے دے، یې د خوشحال خټک ورارهٔ او د فقیر جمیل بېګ زوے بولي. فقیرجمیل بېګ پهٔ خپله هم د فارسۍ، عربۍ او پښتو ژبو ډېر پوهه، فاضل، عالم او شاعر وهٔ، کتابونه یې لیکلي دي، ستر صوفي وهٔ او د حضرت کاکا صېب مرید وهٔ. د فقیرجمیل بېګ د پیدائښت نېټه هم نهٔ ده معلومه البته پهٔ ۱۱۱۶ھ کښې مړ شوے دے.

د صدیق دېوان پهٔ اول ځل دوست شینواري مرتب او چاپ کړے دے. دوست شینواري یې د پیدائښت نېټه د ۱۰۶۷ھ او ۱۰۷۵ھ تر منځ ګڼلې ده؛ خو میا وکیل شاه فقیرخېل د صدیق د پیدائښت نېټه ۱۰۶۰ھ خوا او شا ګڼي.

[1] Bacha khan Puhantun Charsadda.
[2] BS, Department of Pashto, ICU Peshawar.

مونږ سره د صديق د پيدائښت په اړه نور هيڅ کوټلي دليل نشته، البته صديق د يوې جګړې ذکر کوي چې د خيبر په مقام باندې د پښتنو او د مغلو په منځ کښې په ۱۰۸۳ھ کښې شوې ده، د دغه جګړې ذکر خوشحال خټک هم کوي. په دغه جهګړه کښې مغلو ته شکست شوے وو چې خوشحال خټک يې په دغه شکست ډېره خوشحالي ښکاره کړې ده؛ خو په دغه جنګ کښې دۀ برخه نۀ وه اخيستلې ځکه چې محمد امين خان د مغلو د ډلې سردار وو او چې کله خوشحال د مغلو په بند بندي وو، هغه وخت يې ښه ښېګړه ورسره کړې وه ، ځکه خوشحال ته دا مناسبه نۀ وبرښېده چې په خپل احسان کوونکي باندې توره پورته کړم لاکن د مغلو په ماته او د پښتنو په بري ډېر خوشحاله دے او د دغه جنګ ذکر په يوه قصيده کښې داسې کوي

چې دانا تر نادان لا وژني بتر
مګر نۀ دے دا ژوندون ځۀ متعبر

نۀ په ډېر ده نۀ په لږ د خداے په کړۀ ده
لږ لښکر په ډېر لښکر مومي ظفر

ځۀ شينواري ځۀ مهمند ځۀ افريدي وو
چې يې مات کړ د صوبې واړه لښکر

دا طوفان چې په مغلو باندې ساز شو
په کشتن په الجو هيڅ مه کړه نظر [1]

د دغې خونړې جګړې ذکر د خوشحال ورارۀ او د خوشحال فکري وارث صديق هم کوي؛ خو صديق دغه هر څه په غزليه نظم کښې وايي چې د خيبر جګړه وشوه او زۀ ماشوم يم:

حق د پښتنو دے که اوس بيا د ننګ د پاره
سور په شهزاده کا دغه تور خوني خيبر

وراندې زۀ هلک وم چې پرې ډوب محمد امین شو
ښـۀ ښـۀ شـهیدان وو ډېـر مغـل شـو پـرې ډېـر (2)

بیا دغلته د اتو یا د شپاړسو کالو هلک د جګړو مګړو ذکر شاعرۍ کښې نشي کولے دا د پوخ عمر د ځوانانو کار دے او دلته بیا مونږ د میا وکیل شاه فقیرخېل سره پۀ دې خبره اتفاق کوو چې صدیق به پۀ ۱۰۶۰ھ کښې پیدا شوے وي. که چېرې مونږ د رحمان بابا د پیدائښت د تاریخ پۀ اړه د "پټې خزانې" چې ۱۰۴۲ھ یې ګڼي نه انکار کوو او د دوست محمد خان کامل مومند، سید تقویم الحق کاکاخېل، قلندر مومند او ډاکتر زبېر حسرت سره اتفاق کوو بیا صدیق زمونږ سره پۀ معلومو شاعرانو کښې یا هغه شاعرانو کښې چې مونږ یې دېوان پۀ لاسونو کښې لرو د زرین دور (دریم دور) دویم شاعر بللے شو. دا خبره مونږ پۀ دې دلیل کوم چې زرین دور له خوشحال خټک پېل کېږي، خوشحال خټک پۀ ۱۰۲۲ھ کښې پیدا کېږي، د خوشحال مشرے زوے اشرف خان هجري پۀ ۱۰۴۴ھ کښې پیدا کېږي، صدیق پۀ ۱۰۶۰ھ کښې پیدا کېږي، عبدالقادرخان خټک پۀ ۱۰۶۳ھ کښې او حُسېن پۀ ۱۰۶۷ھ کښې او داسې د دې زرین زنځیر کړۍ پسې غځېږي، اشرف خان هجري د صدیق نه شپاړس کاله مشر دے؛ خو زما پۀ اند چې کله مغل پۀ ۱۰۹۲ھ کښې اشرف خان هجري پۀ بند کښې بندوي، بیا اشرف خان هجري دغلته د هجر ډکه شاعري شروع کوي. اوس وئېلے شو چې پۀ زرین دور کښې د خوشحال خټک نه وروسته اولنے شاعر زمونږ سره صدیق پاته کېږي.

خو دلته لا رحمان بابا پۀ مینځ کښې دے او دغه بحث هم سر راپورته کړے دے چې صدیق مشر دے؟ که رحمان مشر دے؟ زۀ غواړم پۀ دغه باندې زۀ هم خپل نظر در شریک کړم.ډاکتر زبېر حسرت صېب یې له رحمانه کشر خو معاصر بولي. دے پۀ خپل کتاب "د رحمان بابا فکري مکتب" کښې لیکي:

"صدیق د رحمان بابا د شاعرۍ محرک نۀ دے بلکې صدیق د رحمان بابا نه کشر خو معاصر ضرور دے او د رحمان بابا نه صدیق استفاده کړې ده نۀ چې صدیق اخذ او احتساب کړے دے" (3)

زۀ دا منم چې صدیق د رحمان بابا پۀ ځمکه غزلې وئیلې دي؛ خو د رحمان بابا د غزل ځواب یې وېلے دے:

بل غزل پۀ انتخاب چې کړې صدیقه!
د رحمان د غزل بس دے دا ځواب (4)

لاکن دا د دې دلیل نشي کېدلے چې صدیق کشر دے او رحمان مشر ځکه چې بیا خو اشرف خان هجري هم له رحمانه ډېر مشر دے او هجري د رحمان بابا یادونه کوي نۀ چې رحمان د هجري، دا ځکه چې رحمان بابا شهرت موندلے دےاو د هجري او صدیق شاعري د خلقو نه لرې پاته شوې ده. زما خیال دا دے چې رحمان او صدیق مونږ له یوۀ بل مشران او کشران نشو بللے . ډاکتر محب وزیر پۀ خپله اہم فل مقاله "پښتو کلاسیکي شاعرۍ کښې انسان دوستي" کښې د رحمان بابا د پیدائښت پۀ اړه د ډاکتر راج ولي شاه خټک دا حواله راخلي: "د دغي ستر او عظیم شخصیت (رحمان بابا) د زېږېدنې او پیدائښت نېټه د پټې خزانې مولف ۱۰۴۲ھ هجري کال ښائیلې ده، دوست محمد خان کامل یې د زېږېدو نېټه ۱۰۶۳ھ ښائېلې ده، دا رنګې سید تقویم الحق کاکاخېل یې دا نېټه ۱۰۶۴ھ او عقاب خټک یې ۱۰۶۵ھ کالونه یادوي او تر ټولو اخر کښې یې قلندر مومند د زېږېدنې او مړینې تاریخونه ۱۰۸۱ھ-۱۱۶۳ھ کالونه ګڼي"(5) خو ډاکتر زېبر حسرت صېب یې ۱۰۶۰ھ-۱۰۶۴ھ یادوي دے پۀ خپل کتاب "د رحمان بابا فکري مکتب" کښې پۀ دې اړه لیکي چې

"د پیدایش او وفات د کلونو پۀ حقله یې صحیح او قوي سند او ثبوت تر لاسه نۀ لرو خو د دېوان یا کلیات د داخلي شهادتونو او ځنې حالاتو واقعاتو نه یې اندازً

تخمينه كولے شو چې د پيدايش كال به ۱۰۶۰ھ يا دې ته نږدې تر ۱۰۶۳ھ-۱۰۶۴ھ وي او د وفات كال به يې د يوې مختاطې اندازې مطابق ۱۱۲۴ھ-۱۱۲۵ھ وي (6)

دلته كه موږ د قلندر مومند سره اتفاق كوو بيا خو رحمان ډېر كشر دے او كه د كامل مومند، سيد تقويم الحق كاكاخېل او زېبر حسرت سره اتفاق كوو بيا به موږ د رحمان بابا د پيدائښت تاريخ ۱۰۶۰ھ-۱۰۶۴ھ/1651ء-1655ء گڼو ورسره ورسره مونږ د صديق د پيدائښت نېټه هم ۱۰۶۰ھ- ۱۰۶۴ھ/1651ء-1655ء بره ذكر كړې ده.

پښتو ادب كښې بې شمېره داسې شاعران او ليكوالان دي چې پښتنو كښې يې هغه شهرت نۀ دے تر لاسه كړے كوم يې چې حق دے او دا د هغو شاعرانو بدقسمتي ده؛ خو مونږ د پښتنو دا بدقسمتي گڼو چې دوي كښې د صديق غوندې د لوړې پايې شاعر هغه مقام نۀ كړو موندۀ كوم يې چې حق وۀ او دا د پښتنو بدقسمتي ده چې د دومره ښې شاعرۍ نه بې برخې پاتې شوي دي.

كه چېرې مونږ په دغه دور (ذرين دور) كښې داسې شپږ اووۀ شاعران ښئيو، د كومو شاعرانه ډكشن چې ډېر موثر دے نو هغو كښې به يو صديق خټک هم وي چې شاعري يې بېخيله خوند او رنگ ډكه ده.

هسې خو پښتو كښې خوشحال خټک د يو بيل سبک خاوند بللے شي؛ لاكن پته نشته چې ولې بيا د دۀ زامنو، نمسو، كوسو او نورو پېروكارانو د دۀ د سبک يا د دۀ د شعر موضوع په دومره موثره توگه خپله نۀ كړه. د خوشحال د قبيلې شاعرانو خوشحال خټک ډېر ستائيلے دے او پۀ هره حواله يې ستائيلے دے، د شاعرۍ خان يې بللے دے؛ خو د خوشحال سبک يې خپل نۀ كړے شو. څوک د رحمان بابا د سبک پېروكاران شول او څوک د هندي مكتب پېروكاران وگرځېدل.

خو كه د خوشحال پۀ كورنۍ كښې چا پۀ اصلي معنو كښې د خوشحال سبک خپل كړے دے نو هغه د خوشحال خټک ورارۀ صديق خټک دے. مونږ يوازينے شاعر صديق "د خوشحال د مكتب" شاعر بولو. هغه جرت، هغه رنگ، هغه اسلوب، هغه هر څۀ چې خوشحال وېلي صديق وېلي دي. كه خوشحال پۀ باغ و بهار ژوندے دے بيا صديق هم پۀ سپرلي او گلاب مړ دے كه

خوشحال تصوف ته سر ور ښکاره کوي، بیا صدیق هم پهٔ تصوف کښې ځان ورکوي. کوم طرز او اسلوب چې خوشحال خپل کړے صدیق هم هغه کوي چې هم هغه طرز او اسلوب د ځان پېژندګلو وګرځوي.

یوه بله د حېرانۍ خبره دا ده چې د خوشحال خټک نیمه شاعري له هجو ډکه ده چې هغه کښې یې مغل او اورنګزېب غندلي دي او خپل زامن یې ځکه غندلي چې هغوي مغل نهٔ غندي د خوشحال زامنو، لمسو پهٔ خپله شاعرۍ کښې چېرته خال خال یو نیم شعر د مغلو پهٔ مذمت کښې ویلے دے. عبدالقادرخان خټک خو به مونږ ووایو چې تصوف لوري ته مایل وهٔ، ځکه به یې مغل نهٔ وي غندلي؛ لاکن اشرف خان هجري ته سرے ګوته پهٔ غاښ پاتې شي چې پهٔ دهٔ خو مغلو دومره ظلمونه کړي چې حد یې نشته خو بیا هم مجال دے چې اشرف خان هجري مغل وغندي دا د خوشحال یو مېړنے وارهٔ او د خوشحال فکري وارث صدیق خټک دے او د خوشحال خټک غونډې یې ژبه نهٔ ده اور ده چې د ټوپک ګزارونه کوي او د مغل ظلم زور غندي. موږ د خوشحال او صدیق یو څو هغه شعرونه راوړو چې دوي پکښې د مغلو ظلم زیاتے غندلے وي.

خوشحال خټک د مغلو له منصبدارۍ سر ټکولے دے او هیڅ د ارام ژوند نهٔ غواړي؛ خو د مغلو ښېګړه نهٔ غواړي ، د یوې قصیدې پهٔ یو شعر کښې وایي:

پښتانهٔ لره شرې اندېرے ښهٔ دي
نهٔ اغوستے د مغل د مجرې شال (7)

همدا خبره خوشحال بابا یو بله قصیده کښې داسې کوي:

پښتانهٔ لره شرې اندېرے بس دي
نهٔ پهٔ فکر د مسند نهٔ د توشک یم

ازادي ده پهٔ ساده سپینه جامه کښې

خــلاص لــه غمــه د زربفــت او مېلــک يــم

د وښــو جــونګړي هســي راتــه ښــي شــوي
وايــم ناســت پــهٔ محلونــو د اهــک يــم

کــه اوګــره د بتهـو شــته پــهٔ شــلومبو ســپينه
د مغلــو پــلاو پــاتو ډېــر پــري ډک يــم (8)

او يو بل ځاے خوشحال خپل زوے ته ځومره عجيبه نصيحت کوي
د پيپلــو پــاڼې خــوره پــهٔ غــرهٔ کښــي اوســه
نـهٔ چې پــان د هندوستان خــوري زمــا جنــده !

دا مورډ د خوشحال څو شعرونه راوړل او پهٔ هم دغه موضوع د خوشحال فکري وارث صديق ختټک څومره ښهٔ غږېدلے دے:

تــوره شــړي، ښــهٔ ده نيمــه لنــګ نيمــه پــهٔ ســر
ورک شــه د مغلــو د بخشــش منــدېل پــهٔ ســر

پړے تر ملا ښهٔ دے چې دې لــور پــهٔ ډوډۍ لـک وي
نــهٔ زري قصــب چــې تــهٔ پــري لــک لــري خنجــر

مــه خــوره زېــړ بريــان متنجنــه پــهٔ منتــو کښــي
ځــار تــر اوربشــينې چــې پــري ايښــے وي تېپــر (9)

اوس تاسو د خوشحال شعرونه هم وګورئ او د صديق شعرونه هم او انصاف وکړئ چې

صــــديق د خوشـــحال ادبــــي وارث دے او کنـــه؟
خوشحال خټک يو بل ځاے پښتانۀ غندي او وايي:

پښـــــتانۀ پــــۀ عقـــل پوهـــه څـــۀ نـــاقص دي
کوتـــــه ســـــپي د قصـــــابانو د جـــــوس دي

پاچـــاهي يــــې د مغــــل پــــۀ زرو بايلــــه
د مغـــــل د منصـــــبونو پــــۀ هـــــوس دي (10)

دغه دا خبره صديق هم کوي او پښتنو ته لېوني وايي:

وارِه لېـــوني شـــول پښـــتانۀ چـــې پســـې ځغلـــي
ننـــګ وتـــه يـــې شـــاه کـــړه لـــه مغلـــو غـــواړي زر (11)

خوشحال خټک د خپل څنګ او جنګ ملګري ايمل خان مومند او درياخان ذکر داسې کوي:

ايمــــل خــــان درياخــــان دواړه خــــوردبين لاړل
اوس خـــو پـــاتو و مغـــل تـــه يـــو خوشـــحال دے (12)

او د خېبر د جګړې پۀ وخت چې خوشحال کوم نظم ليکلے دے هغه کښې هم د دوي مېړانه ستايي:

ايمل خان دريا خان دواړه مرګ يې مۀ وے
هيڅ تقصير دواړو ونۀ کړ وار پۀ وار (13)

او بيا صديق د دغه دربو واړو مېړنو خوشحال،ايمل او دريا ذکر داسې کوي:

نۀ مومند ابمل شته، نۀ خوشحال خټک،دریا شته
نۀ لښکر غلجي له پښتنو خالي شو غر (14)

خوشحال پۀ شاعري کښې له مغلو سر ټکوي، بیا صدیق هم د مغل پۀ غندلو کښې له خوشحال پرته تر نورو ټولو مخته دے.

مونږ سره پښتو کښې داسې شاعر نشته چې مونږ و وایو چې پلانکے یوازې د پلانکي مکتب شاعر دے. خامخا به د بل مکتب اثرات ورباندې پراتۀ وي ، همدا رنګه صدیق هم یوازې د خوشحال پۀ سبک پورې تړال شوے نۀ دے، کله د روښاني سبک، کله د رحمان سبک او کله هندي سبک ته لاس ور واچوي؛ خو د خوشحال د فکري مکتب نه پس زمونږ پۀ خیال دے هندي سبک ته ډېر نزدې دے. دا بیله خبره ده چې زبېر حسرت یې ښځي هندي مکتب ته نزدې هم نۀ پرېږدي . "د رحمان بابا فکري مکتب" کښې پۀ دا اړه لیکي:

ولې زما تر فهمه د رحمان بابا پېروکار خو وۀ مګر د حمید بابا د نازک خیالۍ چې د هندي سبک له اثره وۀ پرې هیڅ اغېزه نشي لیدے البته دومره وېنا ضرور کوم چې صدیق پۀ کلاسیکي شاعرانو کښې د رحمان بابا، محمدي صاحبزاده، عبدالحمید مومند، علي خان او مغزالله خان مومند د درجې شاعر ثابېتدے شي" (15)

ډاکټر زبېر حسرت چې صدیق د کومو لوړو شاعرانو سره پۀ څنګ کښې اودرولے دے، ښځي یې انصاف کړے دے؛ لاکن د نازک خیالۍ له چوکاټه یې چې ویستلے دے ورسره اتفاق نۀ شي کېدے. دوست شینواري یې نازک خیاله شاعر ګڼي، ښځي د حمید بابا غوندې نازک خیاله او دلته دا خبره دے د عبدالحی حبیبي صېب پۀ حواله راوړي:

پۀ پښتانۀ شعرا کښې متوسطې طبقې شاعر او د رحمان له پېروانو څخه ګڼل شوے دے او پۀ کابل مجله کښې د حمید غوندې یو نازک خیال شاعر بلل شوے دے(16)

دوي که دلته صدیق د حمید بابا غوندې نازک خیاله ګڼلے خو دا یې د رحمان بابا له مکتبه ګڼلے دے. نۀ پوهېږو چې دا پۀ کوم بنیاد دوي رحمان او صدیق له یوۀ سبکه ګڼي که پۀ دغه دلیل دوي صدیق د رحمان له سبکه ګڼي چې ګني صدیق تصوف ته ځاے پۀ ځاے ژورې

اشارې کړې دي نو پۀ دې خو یې مونږ ځکه د رحمان د سبک سره نښو تړلے چې تصوف یوازې د رحمان بابا میراث خو نۀ دے. مونږ وړاندې وئیلي چې صدیق د تصوف له پلوه د روښانیانو سره پېوست دے او هم دغه د تصوف له پلوه د خپل ترۀ خوشحال خټک سره هم پېوست دے.

د صدیق د نازک خیالۍ پۀ اړه به د میا وکیل شاه فقیرخېل نظر هم راوړو چې ډېر کوټلے دے:

"کومه نازک خیالي او فکر چې د عبدالحمید مومند او کاظم خان شېدا پۀ شاعرۍ کښې ښکاري نو د صدیق پۀ اشعارو کښې د فکر او فن پۀ لحاظ پورا د نزاکت او رومانیت نه ډک غزلونه هم موندلے شي چې پۀ نازک خیالۍ کښې یې د عبدالحمید او شېدا سره پۀ یو صف کښې ودروي" (17)

که چېرې د هندي سبک غوښتنه دا وي چې کنایې او استعارې به کاروي بیا صدیق پۀ کنایو او استعارو کښې له چا کم نۀ دے، که چېرې د هندي سبک غوښتنه دا وي چې نوي او باریک مضمونونه به راووې بیا پۀ دغه لړ کښې هم د صدیق شاعري ښه شتمنه ده، که مبالغه د هندي سبک ځانګړنه وي بیا په دغه کښې هم صدیق تکړه دے، که چېرې هندي سبک د پېچېدګۍ او مشکل پسندۍ متقاضي وي نو ډېر پۀ دعوي سره وئیلے شو چې پۀ پښتو ټول کلاسیک شعر کښې له کاظم خان شېدا وروسته که چا پېچیده شاعري، پېچیده خیال او پېچیده اصطلاحات راوړي دي نو هغه صدیق خټک دے. صدیق پۀ باقاعده توګه یو صوفي معلومېږي او دے بار بار د پیر ذکر هم کوي شاید چې د صوفیتوب له خپل پلار فقیر جمیل بېګ نه ورته پۀ میراث کښې پاتې شوے وي. دے ډېر ځله د تصوف ذکر کوي خو یو خبره د یادونې ده او د حېرانۍ هم چې کلاسیکي شاعرانو کښې صدیق یوازینے شاعر دے چې د هغه پۀ دېوان کښې مذهبي (دیني/فقهي) شاعري نشته نۀ خو پکښې نعتونه شته، نۀ حمدونه او نۀ مناجات چې شروع یې کړې ده پۀ غزل یې کړې ده.

د صدیق د تصوف پۀ اړه علامه عبدالحی حبیبي پۀ "پښتانۀ شعرا" کښې لیکي:

" یو جوشي او رند شاعر دے ، د دۀ کلام کښې د عشق او عرفان جلوه برېښي او د تصوف ښې ښې نکتې پۀ روان شعر کښې بیانوي." (18)

د صدیق شاعري نن هم پښتنو څېړنکارانو او نقادانو ته سترګې پهٔ لار ده چې کله به دوي د خلې وهلیو موضوعاتو نه راتیرېږي او نوې موضوع به راسپړي.

## حواله جات(References):

:1د خوشحال بابا کلیات، سمونه، ډاکټر یار مغموم خټک ،یونیوسټي بک اېجنسي خیبر بازار پېښور ،2016ء، مخ:170

:2د صدیق دېوان، ترتیبونکے ،میا وکیل شاه فقیرخېل ،دانش خپرندویه ټولنه، 2015,مخ:140

:3حسرت ، محمد زبېر ، ډاکټر ، پروفېسر ، د رحمان بابا فکري مکتب، چارسده، پښتونخوا مطالعاتي مرکز باچاخان پوهنتون ،2013ء,مخ: 107

:4د صدیق دېوان، مخ: 100

:5د رحمان بابا فکري مکتب، مخ: 58

:6محب وزیر ، پښتو کلاسیکي شاعرۍ کښې انسان دوستي، پېښور، باچاخان ریسرچ سېنټر ، 2012ء، مخونه: 194,193

:7د خوشحال بابا کلیات، مخ: 174

:8همدغه کتاب،مخ: 177

:9د صدیق دېوان، مخ: 140

:10د خوشحال بابا کلیات، مخ: 780

:11د صدیق دېوان، مخ: 140

:12د خوشحال بابا کلیات، مخ: 903

:13همدغه، مخ: 168

:14د صدیق دېوان، مخ: 141

:15د رحمان بابا فکري مکتب، مخ: 113

:16همدغه، مخ: 112

:17د صدیق دېوان، مخ: 24

:18حبیبي ، عبدالحئ ، پښتانۀ شعرا (اولنے ټوک)، پېښور، یونیوسټي بک اېجنسي خیبر بازار، مخ: 163